بسم الله الرحمن الرحيم

# پوښتنې ته ځواب

## په بورکیناپاسو کې نظامي کوداتا

## (ژباړه)

**پوښتنه:**

د ۲۰۲۲ م کال د جنوري میاشتې پر ۲۴مه د بورکیناپاسو پوځ د دغه هېواد ولسمشر «راچ کیباري» له واکه گوښه او د قدرت تر لاسه کول اعلان کړل، همدارنگه پوځ حکومت او پارلمان منحل کړل او پولې یې وتړلې.

د پوځ دویم مشر «پول هنري سنگاډو ډومبیا» هغه اعلامیه لاسلیک کړه چې پکې کوداتا اعلان شوې او یو بل نظامي افسر د ساتنې لپاره ملي حرکت په نوم په ټلویزیون کې ولوستله. په دې اعلامیه کې ژمنه وشوه چې حکومت به بیرته خپل قانوني حالت ته گرځي، خو دا یې څرگنده نه کړه چې کله به دا کار کېږي. د دې کوداتا تر شاه څه دي؟ ایا دا څه په یاد هېواد کې پر نړیوال اختلاف پورې اړه لري؟

**ځواب:**

د واضح ځواب تر لاسه کېدو لپاره لاندې مواردو ته اشاره کوو:

۱. د بورکیناپاسو هېواد پخوانی نوم «اپیر ولټیا» و، دغه هېواد هم په هغو اسلامي هېوادونو کې راځي چې ٦٠ سلنه خلک یې مسلمانان دي. دا په افریقا کې څلورم هغه هېواد دی چې د نورو کانونو تر څنگ لکه مس او زینگ سره زر هم لري او تولیدوي.

فرانسې په ۱۸۹٦ م کال کې بورکیناپاسو اشغال او مستعمره کړه. دوی دغه هېواد په همغه وخت کې د فرانسې له ایتلاف او ټولنې سره یوځای کړ. همدارنګه په ۱۹٦۰ م کال کې یې باید خپلواکي ورکړې وای، خو فرانسې په هغه پورې اړوند پوځ رامنځته کړ. دغه واک د یاد هېواد ځانګړو ځواکونو ته ورکړل شو، څو په سیمه کې د فرانسې نفوذ وساتل شي. فرانسې تر دغه کار وروسته دغه هېواد د افریقا د پنځو ساحلونو غړی کړ، څو په دې سره په غرب او مرکزي افریقا کې خپل نفوذ وساتي.

دا هر څه د یاد هېواد پر اقتصاد پورې اړه لري او افریقایي فرانک هم ورته ویل کېږي چې د ایرو پر وړاندې یو واحد دی. د هغو هېوادونو پیسې چې له دې «کرنسی» سره تړاو لري، د فرانسې مرکزي بانک ته ولېږدول شوې. فرانسې د دې لپاره په دغو پیسو پانګونه وکړه چې د یاد هېواد د اقتصاد ملاتړ وکړي. دا هغه استعماري تګلاره ده چې یاد هېواد مستعمره او د شتمنۍ تر څنګ یې ټول واک په لاس کې واخلي.

په هر حال، امریکا هڅه وکړه چې له ښکېلاک څخه د خپلواکۍ تر لاسه کېدو نظرو پر اساس دې څه ته لاس رسی ولري. یوازې دا نه، بلکې امریکا د مرستو له لارې، نړیوالو پیسو او غیر عادلانه شرطونو، مدني ټولنې سازمانونو او امنیتي او سیاسي پرسونل ته د لاس رسي له لارې یې دې څه ته د لاس رسي کوښښ وکړ. امریکا د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په پلمې کارولو سره هڅه وکړه چې هلته خپل نفوذ پراخه کړي او په یاد هېواد کې یې وسله والو اسلامي ډلو پر وړاندې د مبارزې په پلمه د نظامي اډو حوړېدل پیل کړل.

۲- امریکا په بورکیناپاسو او د دغه هېواد په ور څېرمه هېوادونو کې خپل لومړیتوبونه په ډاګه کړل او د ساحلي سیمې لپاره یې په ۲۰۲۰ م کال کې خپل ځانګړی استازی هم وټاکه. امریکا دا اقدام د اسلامي وسله والو ډلو د بریدونو مخنیوي او له تاوتریخوالي سره د مخ کېدو په پلمه وکړ. د امریکا حکومت اعلان وکړ چې په ساحلي هېوادونو په ځانګړې ډول د بورکیناپاسو، مالي او نایجیریا هېواد تر منځ په سرحد کې حالت مخ په خرابېدو دی او د دې سیمې لپاره د ځانګړي استازي ټاکل لازم دي.

فرانسې په ۲۰۱۳ م کال کې یو ځل بیا په سیمه کې لاسووهنه وکړه، دا لاسووهنه یې د خپل نفوذ ساتلو او اسلامي وسله والو ډلو پر وړاندې د مبارزې په پلمه په ۲۰۱۲ م کال کې په مالي هېواد کې تر کوداتا وروسته وکړه. د همغه کال په وروستیو کې په یاد هېواد کې د فرانسې د شتون او په لودیځه افریقا کې د دغه هېواد د لاسوهنې پر وړاندې لاریون تر سره شو. دوی بیرته فرانسې هېواد ته د هغوی د سرتېرو ستنېدو غوښتنه وکړه. دا ټول په بورکیناپاسو، مرکزي او لودیځه افریقا کې د امریکا او فرانسې د اختلافونو ښودنه کوي.

په لویدځه او مرکزي افریقا کې د فرانسې او امریکا اختلافونه له همدې امله دي. د دې اختلاف په اړه له «مکرون» سره په یو مطبوعاتي کنفرانس کې نوموړي دې مسلې ته له بلې لارې اشاره وکړه او ویې وویل: «اړیکې ډېرې ترینګلې دي او له افریقا سره اقتصادي او مالي نوې هوکړې ته زیان رسوي.» هغه همدارنګه وویل: «اروپا باید په دې برخه کې د روغتیا، پوهنې او چاپېریال په برخه کې د شرطونو په منلو سره ګوابښونو ته ځان ورکړي.» (https://presidence-francaise.consilium. (سرچینه: اې ایف پي، ۲۰۲۱، د ډیسمبر نهمه)

نوموړي په «ستېرس بورک» کې د ۲۰۲۲ م کال د جنوري پر ۱۹مه یو ځل بیا د اروپا د پارلمان تر استازیتوب وړاندې پخپلو خبرو کې دغه بیانیه تایید کړه؛ هغه ورځ چې هېواد یې د شپږو میاشتو لپاره د اروپایي ټولنې سرپرستي تر لاسه کړه. دا هغه ورځ وه چې نوموړي د افریقا په وچه کې پر نویو ملاتړو غږ وکړ او په فبروري میاشت کې یې د دواړو وچو تر منځ د ناستې ترسره کېدل اعلان کړل. (سرچینه، فرانسه ۲۴، ۲۰۲۲، د جنوري ۱۹)

هغه همدارنګه هلته خپلې پانګونې ته اشاره وکړه، د اروپایي ټولنې د واکمنۍ کمپنیو ته، په ځانګړې ډول د فرانسې هېواد پانګې او چور چپاول ته. نوموړي همدارنګه د روغتیا په برخه کې هم پانګونې ته اشاره وکړه، چې درمل برابر کړي. ده د امنیت برخه هم یاده کړه، څو هلته د فرانسې د نفوذ ساتنه وکړي.

۳- د امنيتي سرچينو د راپور له مخې، د بورکيناپاسو ولسمشر «کابيري» د ۲۰۲۲ م کال د جنوري پر ۲۳مه د نظامي کوداتا پر مهال ونيول شو او له واکه گوښه شو، دا هغه وخت وشول چې د ياد هېواد نظامي برخې د نوموړي د واکمنۍ پر وړاندې ودرېدې. همدارنگه هغوی د پوځ د لوړ پوړو غړو او د استخباراتو د مشر له واکه گوښه کېدل وغوښتل. دوی ياد کسان د جهاديانو پر وړاندې په مبارزه کې په پاتې راتلو تورن کړل او له دغو ډلو سره د مخ کېدو په برخه کې يې د نورو سرچينو ځانگړي کولو غوښتنه وکړه. هغوی همدارنگه د جنرال «گلبريټ ډينډير» د خوشې کېدو او د ولسمشر د لېرې کېدو غوښتنه وکړه. دا جنرال په ۲۰۱۵ م کال کې د شته واکمنۍ له لوري د ناکامې کوداتا د هڅې په تور نيول شوی او بندي شوی و.

پوځ وويل: «کابيري د ملت په يوځای کولو او د امنيتي گواښونو په مخنيوي کې ناکام شوی، چې په خبره يې، دا څه د ياد هېواد د خلکو شتمنۍ ته گواښ دي. (سرچينه: بي بي سي، ۲۰۲۲، د جنوري ۲۵مه) د کوداتا مشر «پول هانري سنډاگو ډميبا» په بورکيناپاسو کې ستر امنيتي افسر دی، نوموړی په پاريس کې له نظامي ښوونځي فارغ شوی او له «سينام» انسټيټيوټ څخه يې د ساينسي جرمونو په برخه کې ماسټري تر لاسه کړې ده.

په ټوله کې د نوموړي دغه روزنه، د فرانسې هېواد غوښتنه او د کوداتا لپاره دا بې بنسټه دليل چې گواکې فرانسه د کوداتا تر شاه نه وه، خو دا ټول شواهد او ثبوتونه ښيي چې ياده کوداتا د فرانسې په ملاتړ ترسره شوه.

۴- د فرانسې ولسمشر ايمانويل مکرون تر کوداتا وروسته وويل: «د بورکيناپاسو ولسمشر «کايبري» د دويم ځل لپاره د ډيموکراټيکو ټاکنو په پايله کې د ياد هېواد د خلکو له لوري ټاکل شوی و. ما وويل چې دی فيزيکي گواښ نه شي پېښولی. (اې ايف پي، ۲۰۲۲، د جنوري ۲۵مه) په دې اعلاميه کې يو مکر شته چې له کوداتا څخه د نوموړي ملاتړ څرگندوي. همدارنگه نوموړي په دې اړه کومه اندېښنه هم نه درلوده.

هغه وويل: «د بورکيناپاسو ولسمشر نه گواښل شوی او نه کوم فيزيکي زيان ورته رسېدلی. دا غوره ده چې هغه ژغورل شوی، که نه وژل شوی به و.» په بورکيناپاسو کې د فرانسې له لوري د مخالف

د وژلو او د هغه پر ځای د خپل استازي ټاکل کېدل مشهور دي. د یاد هېواد پخوانی ولسمشر «ټامس سنکیرا» هم په ۱۹۸۷ کال کې هغه مهال وژل شو و چې په یو مارکسستي انقلاب کې راښکاره شوی و او هڅه یې کوله چې د امریکا لپاره خپل کار کول منظم کړي.

دی د فرانسې د استازي او مزدور «بلیس کمپوري» له خوا وژل شوی و، هغه کس چې د نوموړي تر وژل کېدو وروسته یې د نظامي کوداتا له لارې واک تر لاسه کړ او دا څه د فرانسې له لوري په همغه کال ترسره شول. فرانسې خپل دغه رول ته تر ۲۰۱۴ م کاله پورې دوام ورکړ، یعنې کله چې د امریکا پلوي نظامي بیا کوداتا وکړه. یو کال وروسته دوی د ټاکنو ترسره کېدو ته اجازه ورکړه او «کابیري» په ۲۰۱۵ کال کې واک ته ورسېد او ټاکنې یې وګټلې. مکرون واک ته د هغه رسېدل او خوشي کېدل نه غوښتل. د فرانسې ولسمشر بیا په مالي کې د دغه هېواد د ولسمشر ابراهیم «باب کر کیتا» د خوشي کېدو غوښتنه وکړه او هغه په ۲۰۲۰ کال کې واک تر لاسه کړ؛ ځکه په مالي هېواد کې هغه وخت ولسمشر د فرانسې استازی او مزدور و، نو ځکه یې د هغه د خوشي کېدو غوښتنه وکړه، خو مکرون د «کابیري» خوشي کېدل نه غوښتل. له دې څخه معلومېږي چې نوموړی فرانسې ته ژمن نه و. مکرون همدارنګه د بورکیناپاسو پر کوداتا نه اندېښمن شو او نه یې وغندله، خو ویې ویل: «موږ د افریقا په لودیځه برخه کې له نورو هېوادونو سره یوځای دا څه غندو.»

۵- په دې برخه کې د امریکا په اړه، د سپینې ماڼۍ ویاند وویل:

«د امریکا متحده ایالاتونه د بورکیناپاسو پر وسله وال پوځ غږ کوي چې ژر تر ژره د دغه هېواد ولسمشر کیبري ازاد کړي، د بورکیناپاسو اساسي قانون او سیمه‌ییزې رهبرۍ ته درناوی وکړي. واشنګټن ښکېل اړخونه خبرو اتر ته هڅوي، څو په بحث کې خپلې غوښتنې مطرح کړي.»
(سرچینه: اې ایف پي، ۲۰۲۲، د جنوري ۲۴مه)

دا څه ښيي چې امریکا په بورکیناپاسو کې پر نظامي کوداتا خوښه نه وه، نو ځکه یې د دغه هېواد د ولسمشر د خوشي کېدو، اساسي قانون ته د درناوري، د یو سیمه‌ییز مشر په توګه د ولسمشر د ازادېدو او بیرته واک ته راتګ غوښتنه کوي، ځکه د امریکا د حکومت په وینا، نوموړی د ټاکنو له

لارې واک ته رسېدلی و. دا په ۲۰۱۴ م کال کې په بورکيناپاسو کې د ترسره شوې نظامي کودتا د ترسره کېدو په تړاو د امریکا د هغه وخت له دریځ سره توپیر لري. هغه مهال د سپينې ماڼۍ وياندې جان پسکي وويل: «د امريکا حکومت اوسمهال د هغه څه شرحه کولو ته چمتوالی نه لري چې ووايي، په بورکيناپاسو کې ترسره شوې پېښه نظامي کودتا وه که نه.» (سرچينه: ۲۰۱۴ د نومبر درېيمه، رويټرز)

همدارنګه امريکا په ۲۰۱۴ م کال کې په ياد هېواد کې د کودتا ملاتړ وکړ، چې هغه مهال يې کودتا نه ورته ويله، خو په وروستۍ کودتا کې يې پر پوځ غږ وکړ چې ژر تر ژره ولسمشر ازاد کړي او اساسي قانون ته درناوی وکړي. افريقايي وياندې «کيلي کهالن» د ۲۰۲۲ م کال د جنوري پر ۲۵مه تر کودتا وروسته د ايمل له لارې وويل: «د پوځ مشر ديمبا د وسلو په زور واک تر لاسه کړی، بايد ملکي واکمنۍ او بشري حقونو ته درناوی ولري.»

په هر حال، د امريکا غندنه ښيي چې د ياد هېواد د پوځ مشر «ديمبا» د متحده ايالاتونو په ډېرو نظامي ښوونې او روزنې کې له ۲۰۱۰ بيا تر ۲۰۲۰ م کاله برخه اخيستې ده.

٦- روسيې هېواد هم په بورکيناپاسو کې پر هغه څه خواشيني ښودلې وه چې هلته پېښ شوي وو. د روسيې د بهرنيو چارو وزير «سرګي لاروف» په همدې تړاو په يوه بيانيه کې وويل: «مسکو د روسيې په دوست او افريقايي هېواد کې پر پېښه شوې کودتا، ناوړه سياسي حالت اندېښمن دی. روسيه په ياد هېواد کې اوسنی حالت له نږدې څاري او هيله څرګندوي چې ژر تر ژره په دغه هېواد کې حالت بيرته عادي شي. (د روسيې د بهرنيو چارو وزارت ويبپاڼه، ۲۰۲۲، کال د جنوري ۲۴مه)

د روسيې دغه له لېوالتيا ډکه پاملرنه يو دليل لري، څو په غربي برخه کې خپل نفوذ وساتي. څنګه چې څرګنده شوه، امريکا په افريقا کې له روسيې ګټه اخلي، څنګه چې په منځني ختيځ کې يې کاروي او هلته خپل نفوذ پرې ساتي. د بېلګې په ډول په سوريه کې د روسيې کارونه، چې په ۲۰۱۵ م کال کې يې د لاسووهنې لپاره شين څراغ ورکړ، څو هلته د خپل مزدور بشار نظام

وساتي. له دې کار څخه يې خپله ګټه پورته کړه، څنګه يې چې په ليبيا کې ترسره کړل. امريکا له حفتر وغوښتل چې له روسيې سره اړيکه ونيسي او له هغه څخه د اروپا پر وړاندې ګټه واخلي.

په وروستيو کې يې په مالي هېواد کې خپل استازي ته امر کړی چې د فرانسې له نفوذ سره د مبارزې لپاره له هغوی د ملاتړ غوښتنه وکړي. پر همدغه اساس، روسيې د وانګر په نوم خپل خلک هلته ولېږل. د بهرنيو اړيکو مسول «اندرو ليبوويتز» دې څه ته اشاره وکړه او ويې ويل: «اروپا او فرانسه په ساحلي هېوادونو کې له جهادي ډلو سره په مبارزه کې له ستونزو سره مخ کېږي، نو ځکه يې روسيې ته ويلي چې په دغه هېواد کې په ځانګړي ډول په مالي هېواد کې خپله امنيتي همکاري پراخه کړي.» (سرچينه: خبر ۲۵. کام، ۲۰۲۲، د جنوري ۲۶مه)

په هر حال، په بورکيناپاسو کې د روسيې د نفوذ تثبيتېدل ډېر لېرې دي. په بورکيناپاسو کې له فرانسې سره د روسيې اختلافات نشته. د فرانسې لوړ پوړي امنيتي چارواکي چې د نوم له اخيستلو يې ډډه کوله، وويل: «په حقيقت کې «دمبيا» په پاريس کې روزل شوی و، نه په مسکو کې. دا په دې مانا ده چې فرانسه به د بورکيناپاسو له پوځ سره د مرستې لپاره يوه لاره پيدا کړي او بايد پر امنيتي مسايلو خبر وکړي؛ خو موږ بايد فعال پاتې شو، څو روسان له رامنځته شوې تشې ګټه وانه خلي.» (سرچينه: خبر ۲۵.کام، ۲۰۲۲، د جنوري ۲۶مه)

۷- په بورکيناپاسو او د افريقا په مرکزي او غربي برخه کې د امريکا او فرانسې د اختلافونو واقعيت هغه څه دی چې موږ يې پورته يادونه وکړه. په بورکيناپاسو کې د امريکا او فرانسې کوداتاوې او ضد کوداتاوې د دوام په حال کې دي او دغه اختلافونه د ياد هېواد تر پلو هم اوښتي دي. په ټوله کې ويلی شو چې امريکا، فرانسه او زړه ښکېلاکګره بريټانيا خپل اشغال ته همداسې دوام ورکوي او غواړي چې په دغو هېوادونو کې نفوذ وساتي.

که ښکېلاکګر هېوادونه په مستقيم ډول د يو هېواد په نيولو ونه توانېږي، نو هغوی هڅه کوي چې له سياسي، نظامي، اقتصادي، فرهنګي، رسنيو او نورو له لارې د خپلو مزدورانو پر مټ د نفوذ لپاره يوه لاره پيدا کړي. دا د ښکېلاک کېدونکو هېوادونو لپاره ډېره ګواښونکې ده. د وسله وال پوځ په مرسته تر ښکېلاک ډېره ګواښونکې ده.

(**هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ**) [منافقون: ۴]

ژباړه: اصلي دښمنان همدوی دي، هغوی ته پام کوئ. الله سبحانه وتعالی به دوی له منځه یوسي، هغوی څنګه دوکه شوي دي؟

داسې ترسترګو کېږي چې کوداتا په یو هېواد کې د خپل نفوذ پیدا کېدو او له هغه هېواده د نورو د نفوذ لېرې کېدو تر ټولو ساده لاره ده. د کوداتا ترسره کوونکي بیا قدرت ته د رسېدو لپاره ورسره همکاري کوي، حتا که د وګړو د له منځه تلو په بیه هم وي.

دوی د بهرنیو سرتېرو له خلاصون او خپلواکۍ تر لاسه کولو لپاره بله لاره نه لري او دې ته په تمه وي چې په واک کې د پاتې کېدو او یا واک ته د رسېدو لپاره له نورو د ملاتړ غوښتنه وکړي. په دوی کې هم خپلواک ذهنونه نشته او همدارنګه داسې ایډیولوژیکه تګلاره او سیاسي کسان هم نشته چې له یاد بحران څخه د هېواد د وتلو لپاره پر یوې تګلارې غور وکړي. د اسلامي هېوادونو بدبختي همدا لاسپوڅي واکمنان دي چې ځوکۍ ته پر خپلو خلکو او هېواد لومړیتوب ورکوي. پر مسلمانانو واجبه ده چې له ښکېلاک څخه د خلاصون لپاره صادقانه هڅې وکړي او له سره اسلامي ژوند پیل کړي. هغه وخت به امت له دې بحران څخه وژغورل شي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

(**كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ**) [عمران: ۱۱۰]

**ژباړه:** *تاسو غوره امت یاست چې د انسانانو د ګټې لپاره پیدا شوي یاست، په معروف امر کوئ او پر الله سبحانه وتعالی ایمان لرئ. که اهل کتاب پر دې روښانه برنامې ایمان راوړي، هغوی ته غوره ده. خو کم یې بایمانه دي او ډېری یې فاسقان دي او د الله سبحانه وتعالی اطاعت نه کوي.*

**۱۴۴۳هـ.ق د جمادي اول ۲۷مه**

۲۰۲۲، م کال د جنوري ۳۰مه

ژباړه: بهیر «ویاړ»